استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

انارگل خوستی

دوشنبه ۰٤ سپتمبر ۲۰۲۳

# دا زمونږ زیبا وطن




دا زمونږ زیبا وطن
دا زمونږ لیلا وطن
دا وطن مو ځان دی
دا افغانستان دی

******

دا دمیني کور زمونږ
دا د پلرو گور زمونږ
نه ورکوؤ چا لره
دا د سترگو تور زمونږ
نه دی د بل چا وطن
دا دی د شیرشاه وطن
کور د خوشحال خان دی
دا افغانستان دی

*****

دا وطن دی ځان  زمونږ
دا وطن ایمان  زمونږ
وایي په خاپوړو کې

داسې ماشومان زمونږ
دا مو د بابا وطن
دا مو د دادا وطن
په مونږ باندې ډیر ګران دی
دا افغانستان دی

******

ځار يې له سيندونو شم
ځار يې له ډاګونو شم
ځار يې له خوړونو شم
ځار يې له دی غرونو شم
دا زمونږ اشنا وطن
درد له مو شفاء وطن
زړګی مې پرې روښان دی
دا افغانستان دی

*******

دا وطن زيارت زمونږ
دا وطن نعمت زمونږ
دا وطن په دې دنيا
دی لکه جنت زمونږ
دا وطن صفا وطن
زړه د ايشيا وطن
ژوندون د ملنګ جان دی
دا افغانستان دی

salamwatanam@gmail.com